د افغانستان بانک

د بازار عملیاتو لوی آمریت

# مقررۀ لیلام اسعار

کال: 1445 هـ ق

د مطالبو فهرست

## لومړی څپرکی

## عمومي حکمونه


لومړۍ ماده:مبنی ........ 1

دويمه ماده:موخه ........ 1

دريیمه ماده:اصطلاحگاني ........ 1


## دوهم څپرکی

## د ليلام پروسه


څلورمه ماده:د اسعارو د ليلامونو شمير ........ 4.

پنځمه ماده:د اسعارو د ليلام اعلان ........ 4.

شپږمه ماده:د اسعارو د ليلام وخت ........ 4.

اوومه ماده:د اسعارو د ليلام په پروسه کې د ګډون شرایط ........ 4

اتمه ماده:د اسعارو د ليلام د پروسې عمومي شرایط ........ 6.

نهمه ماده:د وړانديزونو سپارل ........ 6.

لسمه ماده:تصديق ........ 7.

يوولسمه ماده:د وړانديزونو پرانيستل او د برياليو ګډون کوونکو خبرتيا ........ 8

دولسمه ماده:د ليلام د پايلو په اړه عامه خبرتيا ........ 10.


## دريم څپرکی

## د معاملاتو تسويهٔ


ديارلسمه ماده:د برياليو ګډون کوونکو لخوا ورکړه ........ 10.

څوارلسمه ماده.د معاملاتو په تسويهٔ کې پاتې راتلل ........ 11.


## څلورم څپرکی

## متفرقه حکمونه


پنځلسمه ماده:د واکونو تفويض ........ 11.

شپاړسمه ماده:د تضمين د پيسو اخيستل ........ 12.

اوولسمه ماده:د کړنلارو او لارښودونو تدوين ........ 12

اتلسمه ماده:انفاذ ........ 13.

## لومړی څپرکی
# عمومي حکمونه

**مبنی**

**لومړی ماده:**

دا مقرره د افغانستان بانک قانون د دری شپېتمې، نهه شپېتمې او اویایمې مادو د حکمونو پر بنسټ وضع شوې ده.

**موخه**

**دویمه ماده:**

د دي مقررې موخه دافغانستان بانک د اسعارو د لیلام اړوند چارو تنظیمول دي.

**اصطلاحگانې**

**دریيمه ماده:**

راتلونکې اصطلاحگانې په دي مقرره کې لاندې مفاهیم ورانديې کوي:

1- بریالی ګډون کوونکی: هغه داوطلب چی د دې مقررې له حکم سره سم لیلام شوي اسعار ورکړل شوي وي.

2- په شرایطو برابر ګډون کوونکی: هغه داوطلب ته ویل کیږي چی لاندې ځانګړتیاوې ولري:

– د افغانستان بانک څخه د اعتبار وړ جواز ولري.

– وړ او مناسب حُکمي شخصیت وي او د ملي او نړیوالو بنسټونو د تعذیراتو په لیست کی شامل نه وي.

– دافغانستان بانک سره د نغدو پیسو تضمین حساب ولري، سوداګریز بانکونه له دې حکم څخه مستثنی دي.

– د اسعارو د لیلام له ورځې څخه یوه ورځ مخکې خپل د نغدو تضمین حساب تحویل کړی وي . که د

## فصل اول
# احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این مقررۀ به تأسی از احکام مواد شصت و سوم، شصت و نهم و هفتادم قانون د افغانستان بانک وضع گردیده است.

**هدف**

**مادۀ دوم:**

هدف این مقرره تنظیم امور مربوط به لیلام اسعار د افغانستان بانک است.

**اصطلاحات**

**مادۀ سوم:**

اصطلاحات آتی در این مقرره مفاهیم ذیل را افاده می‌نمایند:

1- اشتراک کننده موفق: داوطلب که اسعار مزایده شده به آن طبق احکام این مقرره، اعطا شده است.

2- اشتراک کننده واجد شرایط: عبارت از داوطلب است که دارای ویژگی های ذیل باشد:

– دارای جواز فعالیت معتبر از دافغانستان بانک باشد.

– شایسته و مناسب بوده و در لیست تعذیرات نهاد های ملی و بین المللی شامل نباشد.

– حساب تضمین نقدی نزد د افغانستان بانک داشته باشد. بانکهای تجارتی از این حکم مستثنی اند.

– حساب تضمین نقدی خویش را یک روز قبل از روز لیلام اسعار تحویل نموده باشد. در صورت تحویلی

تضمین پیسې د لیلام په ورځ سهار وسپارل شي، هغه ته د همدې ورځ په لیلام کې اجازه نه ورکول کیږي.

3- خبرتیاوې: د اسعارو د لیلام په اړه خبرتیاوې دي چې د افغانستان بانک لخوا خپریږي.

4- افغانی: د افغانستان رایجې پیسې او پولي واحد ده او نښه یې AFN ده.

5- بانک: هغه حکمی شخص چې له خلکو څخه د پولي سپارنو یا د بیرته ورکړې وړ نورو وجوهو د لاس ته راوړلو او د خپلې ګټې د ترلاسه کولو لپاره د اعتباراتو د ورکولو په منظور فعالیت کوي او اسلامي بانک او متعارف بانک پکې شامل دي.

6- وړاندیز: د لیلام په پروسه کې د اسعارو اخیستلو غوښتنه ده چې د دې مقررې له احکامو سره سم په ټاکلي وخت کې په فزیکي ډول یا د اړوند سیستم له لارې په بریښنایي ډول د افغانستان بانک ته سپارل کیږي.

7- وړاندیز کوونکی: هغه وړ شخص دی چې د لیلام په پروسه کې د اسعارو د معاملې وړاندیز کوي.

8- د معاملاتو تسویه: د تادیې وړ مجموعي افغانۍ چې د اسعارو د لیلام پروسې له لارې د بریالي ګډون کوونکي لخوا د اخیستل شویو اسعارو په مقابل کې د افغانستان بانک ته تادیه کیږي.

9- جواز: هغه لیکلی سند دی چې د افغانستان بانک لخوا صادریږي او د شرایطو لرونکي شخص ته د سوداګریزو فعالیتونو د ترسره کولو واک ورکوي.

10- نغدي تضمین حساب: د نغدو پیسو حساب چې د مزایده کونکی په نوم لږ تر لږه د 600,000 (شپږ سوه زره) افغانیو سره په د افغانستان بانک کې پرانیستل کیږي او تر هغه وخته چې مزایده کونکی د اسعارو په لیلام کې برخه اخلي، پیسې یې ساتلې وي او بیرته نه ورکول کیږي.

پول تضمین در صبح روز لیلام، اجازه اشتراک در لیلام همان روز را نمی‌داشته باشد.

3- اطلاعیه: اعلان در مورد لیلام اسعار که توسط د افغانستان بانک پخش می‌گردد.

4- افغانی: پول رایج و واحد پولی افغانستان بوده و علامه آن AFN می‌باشد.

5- بانک: شخصیت حکمی که به منظور دریافت سپرده های پولی یا سایر وجوه قابل بازپرداخت از مردم و اعطای اعتبارات جهت کسب منفعت خویش فعالیت می نماید و شامل بانک اسلامی و بانک متعارف می‌باشد.

6- پیشنهاد: عبارت است از درخواست برای خریداری اسعار در پروسه لیلام که طبق احکام مندرج این مقرره، به طور فزیکی یا از طریق سیستم مربوطه بطور الکترونیکی در وقت معینه به د افغانستان بانک تحویل داده می‌شود.

7- پیشنهاد کننده: شخص واجد شرایط که پیشنهاد معامله اسعار را در پروسه مزایده ارایه می‌کند.

8- تسویه معاملات: عبارت است از پرداخت مبلغ مجموعی افغانی قابل تادیه به د افغانستان بانک در قبال اسعار خریداری شده از طریق پروسه لیلام اسعار توسط اشتراک کننده موفق.

9- جواز: سند رسمی که توسط د افغانستان بانک صادر شده و صلاحیت اجرای فعالیت های تجارتی را به یک شخص واجد شرایط میدهد.

10 حساب تضمین نقدی: حساب سپرده نقدی که به نام مزایده کننده با حداقل مبلغ 600,000 (شش صد هزار) افغانی در د افغانستان بانک افتتاح گردیده و تا هنگام اشتراک مزایده کننده در لیلام اسعار، پول آن حفظ بوده و بازپرداخت نمی‌گردد.

د افغانستان اسلامی امارت
د افغانستان بانک
آمریت عمومی عملیات بازار
Market Operations Department
Da Afghanistan Bank



Office of the General Counsel

11- ورځ: هرې کاري ورځې پرته د جمعې ورځې او هرې بلې ورځې چې د افغانستان بانک تعطیل وي.

12- ارز یا سعر: د افغانستان له پیسو پرته د نورو هیوادونو پیسې دي.

13- سیستم: دا یو کمپیوټري پروګرام دی چې د افغانستان بانک لخوا د اسعارو د لیلام، د سرو زرو پیرودلو او د تبادلې نرخ راټولولو پروسې د تنظیم کولو لپاره رامینځته شوی او هر ګډون کوونکی یو یوزر لري.

14- شخص: له حکمي یا حقیقي شخص څخه عبارت دی.

15- د صرافي او پولي خدمتونو شرکت: دا یو حکمي شخص دی چې د افغانستان بانک د صرافیو او پولي خدمتونو د کړنو د تنظیم او څارنې مقررې د احکامو پر بنسټ یې جواز ترلاسه کړی وي.

16- د وړاندیز فورمه: هغه کاغذي یا الکترونیکي فورمه چې د اسعارو د لیلام پروسې ګډون کوونکي ته د افغانستان بانک له خوا په فزیکي ډول او یا هم د آنلاین اړوند سیستم له لارې ورکول کیږي.

17- د خلاص بازار د عملیاتو کمېټه: هغه کمېټه چې د افغانستان بانک په کچه جوړه شوې د عامل پلاوي د یو تن غړي، د پولي سیاست لوی آمریت او د بازار د عملیاتو لوی آمریت څخه جوړه ده او د کار د ماهیت سره سم اړین تصمیمونه نیسي.

18- لیلام او مزایده: د داوطلبی پروسه ده چې په ترڅ کې یې د افغانستان بانک په شرایطو وړ داوطلبانو ته اسعار پلوري.

19- وړاندیز شوی مبلغ: د لیلام پروسې کې د ګډون کوونکي لخوا وړاندیز شوي او منل شوي اسعارو مجموعي مبلغ څخه عبارت ده.

11- روز: هر روز کاری به جز از روز جمعه و هر روز دیگر که د افغانستان بانک تعطیل باشد.

12- سعر یا ارز: پول سایر کشورها به استثنای پول افغانستان است.

13- سیستم: عبارت است از برنامه کامپیوتری که توسط د افغانستان بانک برای تنظیم پروسه لیلام اسعار، خرید طلا و جمع آوری نرخ تبادله ساخته شده است و هر اشتراک کننده در آن دارای یک یوزر می باشد.

14- شخص: عبارت از شخص حکمی یا حقیقی است.

15- شرکت صرافی و خدمات پولی: شخص حکمی است که حسب مقرره تنظیم و نظارت فعالیت صرافی ها و خدمات پولی از د افغانستان بانک جواز اخذ نموده و فعالیت نماید.

16- فورم پیشنهاد: فورم کاغذی یا الکترونیکی که بطور فزیکی یا از طریق سیستم مربوطه به شکل آنلاین از طرف دافغانستان بانک در اختیار اشتراک کنندگان پروسه لیلام اسعار قرار داده می‌شود.

17- کمیته عملیات بازار باز: کمیته که در سطح د افغانستان بانک ایجاد شده و اعضای آن متشکل از یک تن از اعضای هیئت عامل، آمریت عمومی سیاست پولی و آمریت عمومی عملیات بازار می‌باشد و با توجه به ماهیت کاری، تصامیم لازم را اتخاذ می نماید.

18- لیلام یا مزایده: پروسه داوطلبی که طی آن د افغانستان بانک اسعار را به داوطلبان واجد شرایط به فروش می‌رساند.

19- مبلغ پیشنهاد: عبارت از مبلغ مجموعی اسعار مورد پذیرش که توسط یک اشتراک کننده در پروسه مزایده ارایه می گردد.

Market Operations Department
Da Afghanistan Bank
Office of the General Counsel

20- د پلورلو مبلغ: د اسعارو مجموعي مبلغ دی چې د اسعارو د لیلام د پروسې څخه بریالیو ګډون کوونکو ته د خلاص بازار عملیاتو د کمیټې لخوا پلورل کیږي.

21- د وړاندیز نرخ: د تبادلې نرخ دی چې د لیلام په پروسې کې د ګډون کوونکي لخوا د اسعارو پیرولو لپاره وړاندیز کیږي.

20- مبلغ فروش: عبارت است از مجموع اسعار که از طریق پروسهٔ لیلام اسعار توسط کمیته عملیات بازار باز به اشتراک کنندگان موفق به فروش رسانیده می‌شود.

21- نرخ پیشنهاد: نرخ مبادله که جهت خریداری اسعار به افغانی از جانب اشتراک کننده پروسه لیلام، ارایه مي‌گردد.

## دوهم څپرکی
## د لیلام پروسه

**د اسعارو د لیلامونو شمیر**

**څلورمه ماده:**

په هره اونۍ کې د اسعارو لیلامونو شمیر د خلاص بازار عملیاتو د کمیټې د پریکړې پر بنسټ ټاکل کیږي.

**د اسعارو د لیلام اعلان**

**پنځمه ماده:**

(1) د افغانستان بانک له لیلام څخه لږ تر لږه یوه ورځ مخکې د افغانستان بانک د اړوند سیستم، د افغانستان بانک ویب پاڼې او ملي رسنیو یا ټولنیزو شبکو له لارې د لیلام په اړه عامه خبرتیا خپروي.

(2) په اعلان کې د لیلام وړ مبلغ اکثر حد، وخت، شرطونه او د لیلام بڼه، د معاملې ځانګړنه او د تسویې معیاد او نور اړین معلومات په کې شامل دي.

**د اسعارو د لیلام وخت**

**شپږمه ماده:**

(1) د اسعارو د لیلام وخت د خلاص بازار عملیاتو کمیټې لخوا ټاکل کیږي.

(2) د اسعارو د لیلام د وخت جزئیات د اړوند سیستم یا رسمي مکتوب له لارې اعلانیږي.

## فصل دوم
## پروسهٔ لیلام

**تعداد لیلام اسعار**

**مادهٔ چهارم:**

تعداد لیلام های اسعار در هفته، حسب تصمیم کمیته عملیات بازار باز تعیین می‌گردد.

**اعلان لیلام اسعار**

**مادهٔ پنجم:**

(1) د افغانستان بانک حداقل یک روز قبل از لیلام، اطلاعیه عام در مورد لیلام را از طریق سیستم مربوطه، ویب سایت د افغانستان بانک و رسانه (های) ملی و یا شبکه های اجتماعی نشر مي‌نماید.

(2) اعلان حاوی حداکثر مبلغ قابل لیلام؛ زمان، شرایط و شیوه لیلام؛ نحوه و میعاد تسویه معامله و سایر معلومات لازم مي‌باشد.

**زمان برگذاری لیلام اسعار**

**مادهٔ ششم:**

(1) زمان برگذاری لیلام اسعار توسط کمیته عملیات بازار باز تعیین می‌گردد.

(2) جزئیات زمان برگذاری لیلام اسعار از طریق سیستم مربوطه یا مکتوب رسمی اعلان می‌گردد.

اوومه ماده:

(1) د سوداګریزو بانکونو لپاره شرطونه په لاندې ډول دي:

1- هغه سوداګریز بانکونه چې غواړي په دې پروسه کې برخه واخلي، خپل رسمي غوښتنلیکونه دې د افغانستان بانک ته وسپاري.

2- د هغوی غوښتنلیکونه د بازار د عملیاتو لوی آمریت له لوري د اړوندو آمریتونو لخوا د راټول شویو معلوماتو په پام کې نیولو سره بیا کتنه کیږي او د دې مقررې، کړنلارې او اړونده متحدالمالونو د احکامو په رڼا کې، د ګډون کولو یا نه کولو پریکړه کیږي.

(2) د صرافي او پولي خدمتونو شرکتونو شرطونه په لاندې ډول دي:

1- د صرافي او پولي خدمتونو شرکتونه چې غواړي په پروسه کې ګډون وکړي، خپل رسمي غوښتنلیکونه د اړینو اسنادو سره یوځای د افغانستان بانک ته وسپاري.

2- د بازار د عملیاتو لوی آمریت چمتو شویو اسنادو بیاکتنه کوي او په دې اړه له اړوندو آمریتونو څخه اړین معلومات راټولوي او د دې مقررې د احکامو په رڼا کې، د اړونده کړنلارې او متحدالمالونو په پام کې نیولو سره د ګډون والو د ګډون یا نه ګډون پریکړه کوي.

3- که چیرې شرکت په شرایطو برابر وي، اسناد به یې ومنل شي او د تضمین د پیسو ترلاسه کولو او په اړوند سیستم کې د یوزر رامینځته کولو په اړه به د اړونده کړنلارې سره سم اړین ګامونه واخیستل شي. پرته له دې، موضوع غوښتونکي شرکت ته خبر ورکول کیږي.

4- که چیرې د اسعارو د لیلام ګډون کوونکي (بانک یا د صرافي او پولي خدمتونو شرکت)، د نافذه قوانینو



مادهٔ هفتم:

(1) شرایط برای بانکهای تجارتی قرار ذیل می باشد:

1- بانکهای تجارتی که خواهان اشتراک در پروسه باشند، درخواست رسمی خویش را در مورد به د افغانستان بانک ارایه می‌کنند.

2- درخواستی آنها از جانب آمریت عمومی عملیات بازار با درنظرداشت معلومات جمع آوری شده از جانب آمریت های مربوطه بررسی شده و در پرتو احکام این مقرره، طرزالعمل و متحدالمال های مربوطه، در خصوص اشتراک یا عدم اشتراک آنها تصمیم می‌گیرد.

(2) شرایط برای شرکت های صرافی و خدمات پولی قرار ذیل می باشد:

1- شرکت های صرافی و خدمات پولی که خواهان اشتراک در پروسه باشند، درخواست رسمی خویش را با اسناد و مدارک لازم به د افغانستان بانک ارایه می کنند.

2- آمریت عمومی عملیات بازار اسناد ارایه شده را بررسی نموده و در مورد معلومات لازم را از آمریت های مربوطه جمع آوری و در پرتو احکام این مقرره، طرزالعمل و متحدالمال های مربوطه در خصوص اشتراک یا عدم اشتراک آنها تصمیم می‌گیرد.

3- در صورتیکه شرکت واجد شرایط باشد، اسناد وی پذیرفته شده و در خصوص دریافت پول تضمین و ایجاد یوزر در سیستم مربوطه، اقدامات لازم حسب طرزالعمل مربوطه صورت می گیرد. در غیر آن موضوع به اطلاع شرکت متقاضی رسانیده می‌شود.

4- در صورتیکه اشتراک کننده لیلام اسعار (بانک و یا شرکت صرافی و خدمات پولی)، از احکام قوانین و

او مقرراتو او یا د افغانستان بانک له لارښوونو څخه سرغړونه کړې وي او موضوع په لیکلي ډول د دلایلو په ذکر سره د دافغانستان بانک د اړونده آمریتونو یا اړونده چارواکو لخوا د بازار د عملیاتو له لوی آمریت سره شریکه شوې وي، د ګډون کوونکي حساب د سرغړونې تر رفع کیدو یا د اړونده ادارې تر راتلونکي خبرتیا پورې غیرفعال کیږي او هغه شخص نشي کولی د لیلام په پروسه کې ونډه واخلي.

**د اسعارو د لیلام د پروسې عمومي شرایط**

**اتمه ماده:**

د اسعارو د لیلام په پروسه کې، لاندې شرایط رعایت کیږي:

(1) په شرایطو برابر ګډون کوونکي نشي کولی د اسعارو د لیلام په وخت کې هیڅ ډول سیستم یا بریښنایي وسیله وکاروي چې د لیلام پروسه مختل کړي.

(2) د اسعارو په لیلام کې ګډونوال، حق نلري تر څو هغه وړاندیزونه چې دوی د اسعارو د لیلام په پروسه کې سیستم کې درج کړي مسترد کړي.

(3) هر ورکړل شوی وړاندیز وروستی دی او ګډون کوونکی اړ دی چې د هغه مطابق عمل وکړي.

(4) ګډون کوونکي نشي کولی د پلور مبلغ په اړه چې د افغانستان بانک د خلاص بازار عملیاتو د کمیټې لخوا ټاکل شوي اعتراض او یا بدلون پکې راولي.

(5) ګډون کوونکي نشي کولی چې د اسعارو د مزایدې پایله چې دوی ته خبر ورکول ګیږي مسترد کړي.

(6) دا شرایط پر ټولو ګډون کوونکو د پلي کیدو وړ دي.

مقررات نافذه یا هدایات د افغانستان بانک تخطی نموده باشد و موضوع به طور کتبی با ذکر دلایل توسط آمریت های مربوطه د افغانستان بانک یا ارگان های ذیصلاح با آمریت عمومی عملیات بازار شریک شود، حساب اشتراک کننده الی رفع تخطی یا اطلاع بعدی همان اداره، در سیستم مربوطه غیرفعال گردیده و آن شخص نمی‌تواند در پروسه لیلام اشتراک نماید.

**شرایط عمومی پروسهٔ لیلام اسعار**

**مادهٔ هشتم:**

در پروسه لیلام اسعار شرایط ذیل رعایت می‌گردد:

(1) اشتراک کنندگان واجد شرایط نمی توانند در جریان زمان برگذاری لیلام اسعار، از هیچ نوع سیستم و یا ابزار الکترونیکی که موجب مختل شدن پروسه لیلام گردد، استفاده نمایند.

(2) اشتراک کننده گان لیلام اسعار، حق مسترد نمودن پیشنهادهای را که در پروسهٔ لیلام اسعار درج سیستم کرده اند، ندارند.

(3) هر پیشنهاد تحویل داده شده نهایی بوده و عمل مطابق به آن بر اشتراک کننده حتمی می باشد.

(4) اشتراک کنندگان نمی توانند در مبلغ فروش تعیین شده توسط کمیتهٔ عملیات بازار باز دافغانستان بانک اعتراض و یا تغییر وارد نمایند.

(5) اشتراک کنندگان نمی توانند نتیجهٔ مزایدهٔ اسعار را که به اطلاع شان رسانیده شده، مسترد نمایند.

(6) این شرایط بالای تمام اشتراک کنندگان قابل تطبیق می باشد.

د وړاندیزونو سپارل

نهمه ماده:

(1) اړوند سیستم د ګډون کوونکو لپاره په ټاکلي وخت کې د وړاندیزونو وړاندې کولو لپاره فعالیږي، او د ټاکلي وخت له تېرېدو وروسته بېرته غیر فعالیږي.

(2) ګډون کوونکي اړ دي چې خپل وړاندیزونه په ټاکلي وخت کې خپلو یوزرونو له لارې په سیستم کې آنلاین ثبت او واستوي.

(3) د اسعارو په لیلام کې د ګډون کوونکو بانکونو لپاره د اعلان شوي مجموعي مبلغ اکثرحد 10٪ او د صرافي او پولي خدمتونو شرکتونو لپاره چې د اسعارو په لیلام کې برخه اخلي د اعلان شوي مجموعي مبلغ 5٪ دي او ټیټه کچه یې د 20,000 (شل زرو) امریکایي ډالرو او یا نور اسعارو دي.

(4) ګډون کوونکي اړ دي چې په واضح ډول خپل مبلغ او نرخ په عدد کې وړاندې کړي.

(5) ګډون کوونکي اړ دي چې په خپل وړاندیزونو کې د یو مبلغ او نرخ غوښتنه وکړي.

(6) اړینه ده چې وړاندیزونه د فورم د ډکولو له لارې چې په سیستم کې درج ده، په بشپړ او دقیق ډول په لسو دقیقو کې بشپړ او واستول شي.

(7) فزیکي یا بریښنایي وړاندیزونه د اړوند سیستم له لارې د افغانستان بانک د بازار عملیاتو لوی آمریت ته لیږل کیږي.

(8) د افغانستان بانک د خلاص بازار د عملیاتو کمیټه د هر وړاندیز بیا کتنه کوي.

(9) د خلاص بازار عملیاتو کمیټه کولای شي د وړاندیز شوي نرخ او په پروسه کې د نورو تیروتنو په اړه اړینې پریکړې وکړي.

سپردن پیشنهاد ها

مادهٔ نهم:

(1) سیستم مربوطه برای اشتراک کنندگان جهت تحویل پیشنهاد ها در ساعت معین، فعال گردیده و بعد از سپری شدن وقت تعیین شده، دوباره غیر فعال می گردد.

(2) اشتراک کنندگان مکلف اند تا پیشنهاد های خویش را از طریق یوزر های خویش در سیستم در وقت معینه به طور آنلاین ثبت و ارسال نمایند.

(3) حداکثر مبلغ داوطلبی برای بانکهای اشتراک کننده در لیلام اسعار 10% مجموع اعلان و برای شرکت های صرافی و خدمات پولی اشتراک کننده در لیلام اسعار 5 % مجموع اعلان و حداقل آن مبلغ 20,000 (بیست هزار) دالر یا سایر اسعار می باشد.

(4) اشتراک کنندگان ملزم اند تا مبلغ و نرخ مورد نظر خویش را به عدد بطور واضح ارایه نمایند.

(5) اشتراک کنندگان مکلف اند فقط یک مبلغ و نرخ را در پیشنهاد های خویش درخواست نمایند.

(6) پیشنهادها باید از طریق خانه پری فورم که درج سیستم گردیده به صورت مکمل و دقیق در ظرف ده دقیقه تکمیل و ارسال گردد.

(7) پیشنهاد های فزیکی یا الکترونیکی از طریق سیستم مربوطه به آمریت عمومی عملیات بازار د افغانستان بانک مواصلت می نمایند.

(8) کمیته عملیات بازار باز دافغانستان بانک هر پیشنهاد را بررسی می نماید.

(9) کمیته عملیات بازار باز می تواند در مورد اشتباهات در نرخ ارایه شده و سایر اشتباهات در پروسه، تصامیم لازم را اتخاذ نماید.

Market Operations Department
Da Afghanistan Bank

تصدیق

لسمه ماده:

د وړاندیز په سپارلو سره، د اسعارو د لیلام د پروسې هر ګډونوال تصدیق کوي چې دا مقرره یې لوستلې او د هغې مطابق او د لیلام په خبرتیا کې درج شوي شرطونو سره سم عمل کوي. سربیره پر دې، د هغې په سپارلو سره، هر داوطلب تصدیق کوي چې د هغه لخوا چمتو شوي معلومات دقیق او بشپړ دي.

**د وړاندیزونو پرانیستل او د بریالیو ګډون کوونکو خبرتیا**

**یوولسمه ماده:**

(1) وړاندیزونه په ټاکلې ورځ او ساعت کې د خلاص بازار عملیاتو کمیټې د یوه غړي په شتون کې د اړوند سیستم له لارې ترلاسه کیږي. که چیرې لیلام د سیستم کارولو پرته ترسره شي، وړاندیزونه به د کمیټې د ټولو غړو په شتون کې پرانیستل کیږي.

(2) د خلاص بازار د عملیاتو کمیټې لخوا د بیلابیلو عواملو په پام کې نیولو سره، د پلور مبلغ ټاکل کیږي.

(3) د پلور د مبلغ د ټاکلو وروسته، د هر بریالي ګډون کوونکي د مبلغ سلنه د پلور د مبلغ څخه محاسبه کیږي.

(4) د وضعیت په پام کې نیولو سره، د خلاص بازار د عملیاتو کمیټه کولی شي د تناسب تقسیم له طریقې (Proration) یا مشخص مبلغ او نرخ له طریقې (Cut Off) یا د دواړو ترکیب څخه کار واخلي.

(5) که چیرې د تناسب تقسیم طریقه (Proration) وکارول شي، د بریالیو بانکونو لپاره، اکثرحد 10% او د بریالیو صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو لپاره اکثرحد 5%، د پلور د مجموعي مبلغ څخه خرڅیږي.

(6) که چیرې د مبلغ او مشخص نرخ طریقه ( Cut Off) وکارول شي، د بریالیو بانکونو لپاره اکثر حد 10% او د بریالیو صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو

تصدیق

مادهٔ دهم:

با تحویل نمودن پیشنهاد، هر اشتراک کننده پروسه لیلام اسعار تصدیق نموده است که این مقرره را مطالعه نموده و مطابق به آن و شرایط مندرج اطلاعیه لیلام، عمل میکند. علاوتاً با سپردن آن هر داوطلب تصدیق می نماید که معلومات ارایه شده وی دقیق و کامل است.

**گشایش پیشنهاد ها و اعلان اشتراک کننده گان موفق**

**مادهٔ یازدهم:**

(1) پیشنهاد ها با حضورداشت یکی از اعضای کمیتهٔ عملیات بازار باز در روز و ساعت معین از طریق سیستم مربوطه اخذ می‌گردد. در صورتیکه لیلام بدون استفاده از سیستم صورت گیرد، پیشنهاد ها در حضورداشت تمام اعضای کمیته باز می‌گردد.

(2) کمیته عملیات بازار باز بادرنظرداشت عوامل مختلف، مبلغ فروش را تعیین می نماید.

(3) بعد از تعیین مبلغ فروش، فیصدی مبلغ هر اشتراک کننده موفق از مبلغ فروش محاسبه می‌گردد.

(4) کمیتهٔ عملیات بازار باز می تواند بادرنظرداشت وضعیت، از روش تقسیم به نسبت (Proration) یا مبلغ و نرخ مشخص (Cut Off) و یا ترکیب از هردو استفاده نماید.

(5) در صورتیکه از روش تقسیم به نسبت (Proration) استفاده گردید، برای بانکهای موفق، حد اکثر 10% و برای شرکت های صرافی و خدمات پولی موفق، حد اکثر 5 % مبلغ مجموعی فروش، فروخته می شود.

(6) در صورتیکه از روش مبلغ و نرخ مشخص ( Cut Off) استفاده گردید، برای بانکهای موفق، حداکثر 10% و برای شرکت های صرافی و خدمات پولی

لپاره اکثر حد 5%، د اعلان له مجموعي مبلغ څخه خرڅیږي.

(7) د ګټونکي صرافي او پولي خدمتونو شرکتونو لپاره، د هغه درجې په پام کې نیولو سره چې دوی ته په ساحې کې دننې څارنې په ترڅ کې د غیر بانکي مؤسسو آمریت له خوا ورکول شوې، په لاندې شرح دوی باندې ډالر خرڅیږي:

| د صرافي او پولي خدمتونو شرکتونو درجه | د خرڅلاو وړ ډالرو سلنه |
|---|---|
| 1 او 2 | د پلورل شوو ډالرو مقدار 5% |
| 3 | د پلورل شوو ډالرو مقدار 4% |
| 4 | د پلورل شوو ډالرو مقدار 3% |
| 5 | د پلورل شوو ډالرو مقدار 2% |

(8) د چارو د ښه تنظیم او د افغانستان بانک د پام وړ موخو د لاسته راوړلو لپاره، د خلاص بازار عملیاتو کمیټه کولی شي د اسعارو د لیلام په پروسه کې د ګډون کوونکو او د پولي خدمتونو شرکتونو ته د اسعارو د خرڅلاو په نرخونو کې تخفیف ورکړي. د تخفیف جزئیات د اړوند متحدالمال له لارې ټاکل، بدلون یا حذفیږي او د هغه سره سم اړونده سیستم عیاریږي.

(9) د پلور ټاکل شوی مبلغ، د بازار عملیاتو لوی آمریت د اسعارو د لیلام د مدیریت لخوا سیستم ته دننه کیږي، او یاد سیستم په اوتومات ډول د دوی د وړاندیز شوي نرخ په پام کې نیولو سره منل شوي او رد شوي وړاندیزونه ټاکي او ښکاروي یې.

(10) د هر وړاندیز په اړه د پریکړې پایله، د اړوند سیستم له لارې د اسعارو د لیلام د پروسې ګډون کوونکو ته خبر ورکول کیږي، او هغوی د خپلو غوښتنلیکونو د منلو یا ردولو په اړه خبر ترلاسه کوي.

موفق، حداکثر 5 % مبلغ مجموعی اعلان، به فروش میرسد.

(7) برای شرکت های صرافی و خدمات پولی برنده، با درنظرداشت درجه که در جریان نظارت داخل ساحه آمریت نظارت از مؤسسات غیر بانکی حایز گردیده اند، به شرح ذیل برایشان دالر به فروش میرسد:

| درجه شرکت صرافی و خدمات پولی | فیصدی مقدار دالر قابل فروش |
|---|---|
| 1 و 2 | 5% مقدار دالر فروخته شده |
| 3 | 4% مقدار دالر فروخته شده |
| 4 | 3% مقدار دالر فروخته شده |
| 5 | 2% مقدار دالر فروخته شده |

(8) جهت تنظیم بهتر امور و رسیدن به اهداف مورد نظر د افغانستان بانک، کمیته عملیات بازار باز می تواند تخفیف هایی را در نرخ فروش اسعار برای شرکت های صرافی و خدمات پولی اشتراک کننده در پروسه لیلام اسعار، فراهم کند. جزئیات تخفیف ها ذریعه متحدالمال مربوطه تعیین، تغییر و یا حذف شده و مطابق به آن سیستم مربوطه عیار می‌گردد.

(9) مبلغ فروش تعیین شده، توسط مسوولین مدیریت لیلام اسعار آمریت عمومی عملیات بازار درج سیستم شده و سیستم متذکره بطور خودکار پیشنهاد های قبول شده و رد شده را بادرنظرداشت نرخ پیشنهاد هایشان، تعیین و نشان میدهد.

(10) نتایج تصمیم در قبال هر پیشنهاد، از طریق سیستم مربوطه به اطلاع اشتراک کنندگان پروسه لیلام اسعار رسانیده شده و آنها در مورد قبولی یا رد درخواستی های خویش آگاهی می یابند.

امارت اسلامی افغانستان
د افغانستان بانک
آمریت عمومی عملیات بازار
Market Operations Department
Da Afghanistan Bank

(11) د اسعارو د لیلام د پایلو په اړه نه هوکړه د اسعارو د لیلام د ګډون کوونکو او د افغانستان بانک تر منځ، د خلاص بازار عملیاتو کمیټه واک لري تر څو موضوع حل و فصل کړي.

(11) در صورت عدم توافق در مورد نتایج لیلام اسعار میان اشتراک کنندگان لیلام اسعار و د افغانستان بانک، کمیته عملیات بازار باز صلاحیت دارد تا موضوع را حل و فصل نماید.

<u>د لیلام د پایلو په اړه عامه خبرتیا</u>

**دولسمه ماده:**

د افغانستان بانک کولی شي چې د اسعارو د لیلام پایلې لومړی د اړوند سیستم له لارې او وروسته د افغانستان بانک د ویب پاڼې له لارې اعلان کړي. د دې خبرتیا محتوا د خلاص بازار عملیاتو کمیټې د پریکړې پر بنسټ ټاکل کیږي.

<u>اطلاعیه عام در مورد نتایج لیلام</u>

**مادهٔ دوازدهم:**

د افغانستان بانک می تواند نتایج لیلام اسعار را نخست از طریق سیستم مربوطه و بعداً از طریق سایت انترنیتی دافغانستان بانک اعلام نماید. محتوای این اطلاعیه حسب تصمیم کمیته عملیات بازار باز، تعیین می‌گردد.

## دریم څپرکی
## د معاملاتو تسویهٔ

## فصل سوم
## تسویهٔ معاملات

<u>د بریالیو ګډون کوونکو لخوا ورکړه</u>

**دیارلسمه ماده:**

(1) د تسویې وخت د اسعارو د لیلام د پروسې د ورځې تر وروستي ساعت پورې دی.

(2) د اسعارو د لیلام د پروسې ګټونکي، خپلې د ذمت پیسې د افغانستان بانک ته په نغد ډول یا د سوداګریزو بانکونو له لارې تادیه کوي او د لیلام له پروسې څخه خپل پیرودل شوي اسعار د سوداګریزو بانکونو له لارې یا د افغانستان بانک څخه په نغد ډول ترلاسه کوي.

(3) د معاملاتو قسمي تسویه مجاز نه ده.

(4) که چیرې د بریالي ګډون کوونکو معاملې د بانکونو له لارې تسویه شي، ټاکل شوی فیس د اړوند متحدلامال سره سم وضع کیږي.

<u>پرداخت توسط اشتراک کنندگان موفق</u>

**مادهٔ سیزدهم:**

(1) زمان تسویه الی آخرین ساعت روز پروسهٔ لیلام اسعار می‌باشد.

(2) برندگان پروسه لیلام اسعار، پول ذمت خویش را به طور نقد و یا از طریق بانک های تجارتی به دافغانستان بانک پرداخت نموده و اسعار خریداری شده خویش از پروسه لیلام را از طریق بانکهای تجارتی یا به طور نقد از دافغانستان بانک اخذ می نمایند.

(3) تسویه قسمی معاملات مجاز نمي‌باشد.

(4) درصورتیکه تسویه معاملات اشتراک کنندگان موفق از طریق بانکها صورت گیرد، فیس تعیین شده حسب متحدالمال مربوطه وضع می‌گردد.

Market Operations Department
Da Afghanistan Bank

د معاملاتو په تسویه کې پاتې راتلل

څوارلسمه ماده:

که چیرې بریالي ګډون کوونکي په ټاکلي وخت خپل د ذمت پیسې د لیلام له پروسې څخه تسویه نه کړي او د خپلې ژمنې خلاف عمل وکړي، د خلاص بازار د عملیاتو کمیټه کولی شي لاندې مخنیوي کوونکي او تنفیذي شرایط په ګډون کوونکو باندې وضع کړي:

1- ګډون کوونکی د اسعارو په څو لیلامونو کې له ګډون څخه منع کړي. د لیلامونو شمیر د حالاتو سره سم د خلاص بازار د عملیاتو کمیټې لخوا ټاکل کیږي.

2- د لیلام په پروسه کې د ګډون کولو امتیاز په دایمي توګه واخلي.

3- د ګډون کوونکي د فعالیت جواز د یوې ټاکلې مودې لپاره وځنډوي.

4- د هغه د فعالیت جواز فسخ کړي.

کوتاهی در تسویهٔ معامله

مادهٔ چهاردهم:

در صورتیکه اشتراک کننده موفق، پول ذمت خویش از پروسه مزایده را در وقت معینه تسویه نه نموده و خلاف تعهد خویش عمل نماید، کمیته عملیات بازار باز میتواند شرایط بازدارنده و تنفیذی ذیل را بالای اشتراک کننده ها وضع نماید:

1- اشتراک کننده را از شرکت در چند لیلام اسعار محروم کند. تعداد آن لیلام ها حسب احوال توسط کمیته عملیات بازار باز تعیین می‌گردد.

2- امتیاز اشتراک در پروسه لیلام را از اشتراک کننده به طور دایمی سلب نماید.

3- جواز فعالیت اشتراک کننده را برای مدت معین به حالت تعلیق قرار دهد.

4- جواز فعالیت وی را فسخ نماید.

## څلورم څپرکی
## متفرقه حکمونه

## فصل چهارم
## احکام متفرقه

**د واکونو تفویض**

**پنځلسمه ماده:**

(1) د افغانستان بانک هغه مبلغ اسعار چې غواړي وپلوري په خپله خبرتیا کې درجوي. اما د خلاص بازار د عملیاتو کمیټه د بازار شرایطو ته په پام د ذکر شوي مبلغ څخه د ډیرو یا کمو د پلورلو واک لري.

(2) د خلاص بازار عملیاتو کمیټه همدارنګه واک لري تر څو که چیرې د وړاندیزونو او بازار شرایط د قناعت وړ نه وي، ټول وړاندیزونه فسخ او د نه پلورلو پریکړه وکړي.

**تفویض صلاحیت ها**

**مادهٔ پانزدهم:**

(1) د افغانستان بانک در اعلامیه خود مبلغ اسعار را که خواستار فروش آن مي باشد، درج می‌کند. اما کمیته عملیات بازار باز صلاحیت دارد تا بیشتر یا کمتر از مبلغ یاد شده را بادرنظرداشت شرایط بازار، به فروش رساند.

(2) کمیته عملیات بازار باز همچنان صلاحیت دارد تا در صورتیکه شرایط پیشنهاد ها و بازار قناعت بخش نباشد، کلیه پیشنهاد ها را فسخ نموده و تصمیم عدم فروش را اتخاذ نماید.

(3) د خلاص بازار دعملیاتو کمیټه واک لري چې د لیلام پروسه لغوه کړي که چیرې په پروسه کې د ګډون کوونکو تر منځ ملګرتیا یا په پروسه کې نورې د قانون څخه سرغړونې شتون ولري.

(4) د خلاص بازار د عملیاتو کمېټه واک لري چې وړاندې شوي وړاندیزونه ومني یا یې رد کړي. کمیټه کولی شي د تخنیکي او نورو ستونزو په پیدا کیدو سره د لیلام پروسه لغوه کړي.

(5) که چیرې د اسعارو د لیلام پورې اړونده موضوع پدې مقرره او اړونده کړنلاره کې روښانه نه وي، د خلاص بازار د عملیاتو کمیټه واک لري تر څو په دې اړه پریکړه وکړي.

(6) د اسعارو د لیلام په برخه کې د خلاص بازار د عملیاتو کمیټې پریکړې وروستی ګڼل کیږي.

**د تضمین د پیسو اخیستل**

**شپاړسمه ماده:**

که چیرې د اسعارو په پروسه کې، ګډون کوونکی د صرافي او پولي خدمتونو شرکت په لیکلي ډول غوښتنه وکړي چې د اسعارو د لیلام په پروسه کې برخه نه اخلي او خپلې د تضمین پیسې بیرته اخلي، په هغه صورت کې چې د بازار د عملیاتو لوی آمریت او د دافغانستان بانک له اړوندو آمریتونو سره باقیداری و نه لری، د هغه پیسې د اړوندو آمریتونو د کړنلارې سره سم په نغدي ډول یا د بانکي حساب له لارې تادیه کیږي.

**د کړنلارو او لارښودونو تدوین**

**اوولسمه ماده:**

د افغانستان بانک کولی شي چې د دې مقررې د احکامو د ښه پلي کولو په موخه، کړنلارې او لارښودونه وضع او متحد المالونه صادر کړي.

(3) کمیته عملیات بازار باز صلاحیت دارد تا در صورت تشخیص همدستی میان اشتراک کنندگان و یا سایر موارد قانون شکنی در پروسه، پروسه لیلام را لغو کند.

(4) کمیتهٔ عملیات بازار باز صلاحیت دارد تا پیشنهاد های ارایه شده را قبول و یا مسترد نماید. کمیتهٔ می تواند در صورت بروز مشکلات تخنیکی و سایر مشکلات، پروسهٔ لیلام اسعار را لغو نماید.

(5) در صورتیکه موضوع مرتبط به لیلام اسعار در این مقرره و طرزالعمل مربوطه صراحت نداشته باشد، کمیته عملیات بازار باز صلاحیت دارد تا در مورد تصمیم اتخاذ کند.

(6) تصامیم کمیته عملیات بازار باز در زمینه لیلام اسعار نهایی محسوب می‌شود.

**برداشت پول تضمین**

**مادهٔ شانزدهم:**

درصورتیکه شرکت صرافی و خدمات پولی اشتراک کننده در لیلام اسعار، درخواست کتبی جهت عدم اشتراک در پروسه لیلام اسعار و برداشت پول تضمین خویش را ارایه کند، در صورتیکه باقیداری نزد آمریت عمومی عملیات بازار و آمریت های مربوطه د افغانستان بانک نداشته باشد، پول وی به طور نقد یا از طریق حساب بانکی حسب طرزالعمل آمریت های ذیربط پرداخت می‌گردد.

**تدوین طرزالعمل و رهنمودها**

**مادهٔ هفدهم:**

د افغانستان بانک می تواند به منظور تطبیق بهتر احکام این مقرره، طرزالعمل و رهنمود را وضع و متحدالمال ها را صادر نماید.

Market Operations Department
Da Afghanistan Bank

انفاذ

اتلسمه ماده:

دغه مقرره د افغانستان بانک د عالي شورا له تصویب وروسته نافذ او پخوانی نسخه یې لغوه ده.

انفاذ

مادهٔ هجدهم:

این مقرره بعد از تصویب شورای عالی د افغانستان بانک نافذ و نسخه قبلی ان ملغی می باشد.

د افغانستان اسلامي امارت
دافغانستان بانک
آمریت عمومی عملیات
Operations Department
Afghanistan Bank

افغانستان اسلامي امارت
دافغانستان بانک
د حقوقي مشاورت دفتر
Office of the General Counsel
Bank